# سره زر په سرو زرو، سپین زر په سپینو زرو، غنم په غنمو، وربشې په وربشو، خرما په خرما، او مالګه په مالګه، يو بل ته ورته (او) برابر، لاس په لاس (سود دی) خو کله چې دا ډولونه سره مختلف وي، نو څرنګه مو چې خوښه وي، خرڅلاو وکړئ، خو دا چې لاس په لاس (نغده معامله) وي

له عبادة بن صامت -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «سره زر په سرو زرو، سپين زر په سپينو زرو، غنم په غنمو، وربشې په وربشو، خرما په خرما، او مالګه په مالګه، يو بل ته ورته (او) برابر، لاس په لاس (سود دی) خو کله چې دا ډولونه سره مختلف وي، نو څرنګه مو چې خوښه وي، خرڅلاو وکړئ، خو دا چې لاس په لاس (نغده معامله) وي».
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله ﷺ په شپږو مشهورو ربوي ډولونو کې د صحيحې او مشروعې معاملې طريقه څرګنده کړې ده، دا شپږ توکي عبارت دي له: سره زر، سپين زر، غنم، وربشې، خرما او مالګه، نو کله چې معامله د يو ډول په يو ډول وي لکه: سره زر په سرو زرو، يا خرما په خرما نو رسول الله ﷺ ورته دوه شرطونه اېښودلي دي: لومړی: که چېرې شي موزون وي(تلل کېږي) لکه سره زر او سپين زر، نو بايد په وزن کې سره برابر وي، او که مکيل وي (پېمانه کېږي) لکه غنم، وربشې، خرما او مالګه، نو بايد په پيمانه کې سره برابر وي. دويم دا چې: پلورونکی بايد بيه او پېرودونکی مال ترلاسه کړي او دا کار بايد د پلور (معاملې) په مجلس کې وشي. نو که دا ډولونه يو له بله مختلف شول، لکه د سرو زرو پلور په سپينو زرو، يا د خرما پلور په غنمو، نو بيعه جواز لري، خو پدې شرط چې پلورونکی بايد بيه او پېرودونکی مال (جنس) د معاملې په مجلس کې ترلاسه کړي؛ که نه، نو دا بيع باطله ده او پلورونکی او پېرودونکی دواړه په حرام سود (ربا) کې اخته شوي دي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66385

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee